# د بابړې پېښه

لیک : ابوالعباس ترجمه : اداره

دا واقعات کۀ نن چاته بیان کړے شي نو هغه به پرې ډېر په ګرانه یقین کوي. منو چې انګرېز ډېر ظالم ؤ او په مونږ ئې ډېر ظلمونه کړي وو خو دا کوم قیامت چې په بابړه کښې په مونږ تېر شو د دې مثال د انګرېز په دور کښې په نظر نۀ راځي. د دې الفاظو پوره کولو نه پس د سالار امین جان اواز غریو نیولے شو.

د مشهور خدائي خدمتګار آغا ولایت شاه سره چې زۀ کوچیانو کلي کښې د سالار امین جان حجرې ته ورننوتم، هغه یو کټ کښې ناست ؤ او اخبار ئې لوستو. د ازادۍ د جنګ دې سپین ږیري سپاهي چې مونږ ولیدو نو راپاڅېدو او په خپل روایتي انداز کښې ئې زمونږ استقبال وکړو. او کله چې ورته مونږ د خپل راتګ مقصد بیان کړو نو یو سوړ اسویلے ئې وکړو او وې وئیل چې مونږ سره په بابړه کښې څه شوي دي او د هغې نه پس چې په مونږ کوم ناتار تېر شوے دے دا یوه لویه المیه ده:

سالار امین جان ووې چې دا قصه ډېره اوږده ده. د پاکستان جوړېدو نه پس کله چې د ډاکټر خان صاحب وزارت مات کړے شو او عبدالقیوم خان مسلم لیګي وزارت جوړ کړو نو هغۀ ته د عوامو اعتماد حاصل نۀ ؤ او د خان عبدالغفار خان د سیاست په وړاندې د هغۀ چلېدل ډېر ګران وو. له دې وجې نه هغۀ د خدائي خدمتګارو د ختمولو اراده وکړه. د ټولو نه وړومبے کار ئې دا وکړو چې قائد اعظم د باچا خان او ډاکټر خان صاحب د خپلو لو ډېر ارماني ؤ او باچا خان سره ئې د هغۀ په کلي کښې د ملاقات کولو وعده هم کړې وه. قیوم خان هغۀ له فرېب ورکړو چې تۀ ئې خپل کلي ته راغوښتے ئې او ستا د قتل سازش ئې جوړ کړے دے. نو قائد اعظم د هغۀ د فرېب ښکار شو او دغه پروګرام ئې پرېښودو. قیوم خان ته پته وه چې کۀ د باچا خان سره قائد اعظم خبره جوړه کړي نو بیا دلته په صوبه کښې زما په حکومت کښې د راتلو هیڅ ګنجائش نشته. دا مرحله ختمه شوه او قیوم خان وزارت جوړ کړو. بیا ورسره دا ویره وه چې عوام اکثر د باچا خان سره ملګري دي زما دا وزارت به زیات ونۀ چلېږي. نو د یوې ترلې منصوبې لاندې د خدائي خدمتګارو د ختمولو په غرض دۀ د هغوي لوئے لوئے مشران چې په کښې باچا خان، ډاکټر خان صاحب، قاضي عطاء الله خان، ارباب عبدالغفور خان او نور ګڼ کسان شامل وو ګرفتار کړل او جېلونو ته ئې ولېږل. د دې ګرفتارو خلاف د یو احتجاجي جلوس ویستلو فېصله وشوه.

په دولسم اګست 1948 د چارسدې نه د جلوس وتلو او بیا د بابړه په مېدان کښې د جلسې کولو پروګرام ؤ. د دې اعلان پېنځلس ورځې مخکښې په اخبارونو کښې ورکړے شو. په دې

پینځلسو ورځو کښې حکومت هیڅ قسم پابندي ونۀ لګوله. زمونږ په خوب او خیال کښې هم دا خبره نۀ وه چې حکومت پټ یو داسې سازش جوړ کړے دے او یوه لویه المیه راپېښېدونکې ده.

په یولسم اګست ماله اطلاع راکړې شوه چې د حکومت ارادې ښې نۀ دي. د دې اطلاع په وجه زۀ په یولسم تاریخ چارسدې ته لاړم. هلته چې ورسېدم نو راته معلومه شوه چې حکومت بابړې ته د تلو ټولې لارې بندې کړي دي چې د بهر نه راتلونکي خلق بابړې ته را ونۀ رسي. ما د شپې شپې خواوشا کلو ته سړي واستول چې رضا کار دې سحر وختي بابړې ته ځانونه راورسوي او دغسې وشو. د حکومت د ټولو کوششونو باوجود زمونږ رضاکار د زرګونو په شمېر کښې راورسېدل. خو سحر خبر راغے چې فوج او پولیس د بابړې مېدان په ګېره کښې اخستے دے چرته چې جلسه کېدونکې وه. د خلقو د ویرولو دپاره ئې ځائے په ځائے ټېنکونه او آرمرډ ګاډي ودرولي وو.

په دولسم اګست سحر نهۀ بجې بابړه کښې د فصیح باچا د حجرې نه زمونږ یو عظیم الشان جلوس چې پینځۀ زره کسان وو د چارسدې نه روان شو. د دې جلوس مشري د پړانګو کرنېل عبدالرؤف کوله. دا جلوس چې د چارسدې بازار ته راورسېدو نو مسلم لیګیانو د خلقو د منتشر کولو او ویرولو دپاره په خپلو بالا خانو کښې هوائي ډزې شروع کړې ولې جلوس ښۀ په اطمینان او تسلې مخکښې روان ؤ. تر دې چې دغه جلوس د بابړې مېدان ته ورسېدو. اوس داسې حال ؤ چې جلوس په ډاګه مېدان کښې ؤ او بره په غونډۍ چرته چې جلسه کېدونکې وه فوج او پولیس سره د ټوپکو ولاړ وو او د جومات په دېوال هم فوجیانو مورچې وهلے وې او د ډزو دپاره تیار ناست وو.



جلوس چې څنګه بره غونډۍ ته نزدې شو نو د ټولو نه وړومبے سپین ملنګ سره جنډه نیولے غونډۍ ته وختو. د دې سره بغېر د څۀ خبرداري نه ډزې شروع شوې. دا علمبردار په ګولو سورے سورے شو خو جنډه ئې زمکې ته پرې نۀ ښوده. سپین ملنګ چې په سرو وینو کښې لت پت رضا کارو ولیدو نو یو نر ځوان ورمخکښې شو او د هغۀ د لاس نه ئې جنډه واخسته. شاید چې سپین ملنګ هم د دې انتظار کولو. جنډه ئې دې ملګري له ورکړه او راپرېوتو او بیا دا جنډه پرله پسې نورو لاسونو وچتوله او په خپلو وینو کښې رنګېدل. دغه وخت د کمانډر حکمونه ختم شوي وو. رضا کار په ډېر جوش غونډۍ پله ورتلل، ګولۍ لکه د باران وربدې او مړي ډېرے کېدل. پوره پینځۀ څلوېښت منټه برابر په تش لاسو خدائي خدمتګارو ډزې وشوې. د بابړې د مېدان نه د جنګ مېدان جوړ ؤ.

چې تر کومې نظر لګېدو نو مړۀ او ژوبل ښکارېدل او د دې بې ګناه خلقو د وينو رودونه روان وو. د يوې محتاطې اندازې مطابق په دې ډزو ځلور نيم سوه تنه شهيدان شوي او د زرو نه زيات ژوبل شوي وو.

مونږ د بعضې خلقو نه واورېدل چې په دې موقعه قرآنونه هم شهيدان کړے شو؟ دا خبره تر کومې صحيح ده؟ ما چې هغه خاموش وليدو نو پوښتنه مې ترې وکړه.

صورت حال داؤ چې دې مېدان ته مخامخ کلےؤ، د کلي خلقو چې د ډزو اواز او چغې سورې واورېدې نو د کورونو نه بوډۍ ګانو د اسلامي روايت مطابق قرآن شريفونه په لاس کوټو ته وختلې. دې ظالمانو په هغوي هم ډزې شروع کړې چې هغې کښې يو څو زنانه شهيدانې او يو څو ژوبلې شوې او ګڼ قرآن شريفونه شهيدان شو دا قرآن شريفونه بيا وروستو راجمع کړې شو او سيند کښې لاهو کړے شو.

ښه دا راته ووايئ چې د دې نه پس د مړو څۀ وشو؟

د ډزو تر ختمېدو خلق خوارۀ شوي وو. ډېر وخت هلته چپه چپتيا وه. پوليس د د جوړ کړې پروګرام مطابق ډېر په تونده مړي په ټرکونو کښې اچول او نامعلومه طرف ته ئې وړل. غالباً د شپې په تيارۀ کښې دا مړي سيندونو ته وغورځولي شو. ځنې مړي چې لرې لرې پراتۀ وو او دوي ورته رسېدے نۀ شو هغه ترې نه بچ شو. زنانوؤ چې کله دا وليدل چې پوليس او خلق چرته په نظر نۀ راځي نو د کورونو نه راوتلې او پاتې مړي ئې کورونو ته يوړل چې بيا وروستو خاورو ته وسپارلي شو.

کله چې زنانوؤ مړي وچتول نو يو شور او واوېلا جوړه وه. دغه وخت هغه رضاکار چې يو خوا بل خوا پټ شوي وو هم مېدان ته راغلل او په لږ ساعت کښې په زرګونو خلق راجمع شو. مونږ هم ډېر مړي راوچت کړل او مقرر ځائے ته کومه ځائے چې به جلسه کولې شوه مو يوړل او په کټونو کښې مو واچول او جلوس مو وويستو. دا جلوس چې چارسدې بازار ته ورسېدو نو هلته مو بازار کښې د دې شهيدانو کټونه کېښودل. خواوشا کښې د مسلم ليګيانو کورونه وو، خلق ډېر قهرېدلي وو او دا نعرې ئې وهلې چې مونږ به د دې شهيدانو بدل اخلو او دې ته تيار شوي وو چې په دغو کورونو ورننوځي او خپل بدل واخلي. دغه وخت د شهيدانو د وارثانو يوه لويه ډله چې ټوپکې تماچې ورسره وې راورسېده او غوښتل ئې چې بدل واخلي. حالات د قابو نه وتل، دغه وخت زۀ ودرېدم او ورته مې تقرير شروع کړو او پوه مې کړل چې دا ظلم حکومت کړے دے او تاسو



د بابړې تاريخي جومات

بدل د خپل قوم د خلقو نه اخلئ، دا غلطه ده د دې صحيح انتقام دا دے چې دا ظالم حکومت بدل کړئ او د دې نظام نه ځان خلاص کړئ او د عدم تشدد په ذريعه د ظلم مقابله وکړئ. د دې تقرير ډېر ښۀ اثر وشو. مونږ جلوس روان کړو او بيا د بابړې مېدان ته راغلو د شهيدانو جنازه مو وکړه بيا مو جلسه وکړه او د هغوي د بخښانې دپاره مو په جمع دعا وکړه او د خپل مشن جاري ساتلو وعده مو وکړه.

دا خو واقعې ډېر المناک واقعات دي. اوربدلي مې وو چې سبا تاسو او ستاسو نور ډېر ملګري ګرفتار کړے شو، د تحريک په نورو ملګرو څۀ تېر شول؟

وروره خبره داسې ده چې د قيوم خان د ظلمونو داستان دلته ختمېږي نه بلکې دا خو ئې آغاز ؤ. د دې نه پس زمونږ د تحريک په ملګرو هغه ظلمونه وشو چې د هغې تش تصور هم په بنده غونے زيږ زيږ کوي. نن قيوم خان لګيا دے وائي چې ګولۍ زما په حکم نۀ وې چلولې شوې. حالانکې د دغې واقعې نه پس دۀ په چوک يادګار کښې يوې جلسې ته ډېر په فخر وئيلي وو چې مونږ په وړومبۍ ورځ د پيشو وژلو په مصداق دوي له داسې سبق ورکړو چې ټول عمر به ئې ياد ساتي.

د سنګدلۍ انتها دا وه چې په دې ډزو کښې کوم خلق زخميان شوي وو هغوي ئې په هسپتالونو کښې نۀ داخلول. چې د هغې له وجې ډېر په خپلو کورونو کښې ورنځېدل او مړۀ شو. بعضو له رحمدله پرائيوېټ ډاکټرانو نه علاج شروع کړو نو هغې ډاکټرانو له سختې سزاګانې ورکړې شوې او د اوو اوو کالو دپاره بغېر د مقدمې چلولو نه جېلونو ته ولېږلي شو. د ډزو نه پس د کور کور تلاشۍ واخستې شوې چرته چې زخمي په لاس ورغلو نو د هغه کور سامان ئې ضبط کړو. سړي ئې د زنانوؤ په وړاندې بربنډول او مخونه به ئې ورله تورول او په خرو به ئې سورول او په لارو کوڅو کښې به ئې ګرځول. دوي له به ئې په ډک بازار کښې کوړې ورکولې او په تانو کښې به ئې اپوټه ځوړندول او داغونه به ئې ورکول.



د بابړې مېدان

د ټولو نه لوئے ظلم دا ؤ چې د چارسدې او بابړې د خلقو نه د دې ډزو يولس زره درې سوه پينځۀ نوي روپۍ جرمانه هم واخستې شوه. د کور په سر د پينځويشتو روپو نه تر پينځۀ سوو روپو پورې جرمانه ولګېده. کوم خلقو چې جرمانه نۀ شوه ادا کولې نو د هغې په عوض کښې ئې د هغوي بچي ګرفتار کړل او جېلونو ته ئې ولېږل. د پښتو د مشهور شاعر عبدالمالک فدا خور په دې ډزو کښې شهيده شوې وه. له دې وجې نه عبدالمالک فدا دوه سوه روپۍ جرمانه شوے ؤ ځکه چې د هغۀ په خور د سرکار ډېرې ګولۍ خرابې شوې وې.

د ازادۍ د جنـــګ د دې بهـــادر ســـپاهي سترګې د اوښکو ډکې شوې او زمونږ زړونه په ژړا شو. د کربلا د مېدان نه د بابړې د مېدان پورې د څوارلس سوو کالو فاصله مونږ ته د شهيدانو نه ډکه ښکاره شوه. د صداقت علمبردارانو همېشه د ظلم په نره مقابله کړې ده او د يزيد نه واخله تر قيوم خان پورې د يو آمريت نه ئې هم شکست نۀ دے قبول کړے.

کله چې ئې مونږ رخصتولو نو سالار امين جان ووې زۀ تاسو ته خواست کوم چې د بابړې په الميه د څۀ ليکلو نه اول هلته لاړ شئ او خلقو سره ملاقاتونه وکړئ او د هغې زخميانو او د ګواهانو نه چا چې دا حادثه په خپلو سترګو ليدلې وه، پوښتنې وکړئ. او بغېر د څۀ جانبدارۍ په پوره ديانت دارۍ سره ټول حقائق خلقو ته پېش کړئ ځکه چې د قلمي ديانت دا تقاضا ده او تاسو د قلم خاوندان يئ.

د بابړې تلو پروګرام زمونږه د اول نه ؤ. په دويمه ورځ مونږ چارسدې ته لاړو او هلته مو د خلقو نه تپوسونه شروع کړل. ځنې خو داسې کسان هم ملاؤ شو چې په دغه جلوس کښې شامل وو او ځنې تماشبين هم مونږ وليدل چې هلته موجود وو. يو څو تنه داسې هم وو چې هغوي مونږ ته خپل پرهرونه وښودل چې د مرګ د خلې نه راوتي وو. دې کسانو سره مونږ د بابړې هغې مقام ته ورغلو د چرته چې د هغه ځائے د خلقو د وينا مطابق اوس هم د شپې دا اوازونه راځي:

د شهيدانو وينه ئې بې ځايه نۀ ځي.

مونږ هغه غونډۍ هم وليده چرته چې هغه جلسه کېدونکې وه او د شپې نه فوج او پوليس نيولې وه او د جومات هغه دېوال مو هم وليدو چرته چې فوجيانو مورچې نيولې وې. او هغه مېدان مو هم وليدو چرته چې په جلوس پينځۀ څلوېښت منټه پرله پسې ډزې شوې وې. هغه کورونه مو وليدل چرته چې زنانوؤ قرآن شريفونه په لاسونو کښې نيولي کوټې ته ختلې وې او شهيدانې شوې وې.

د چارسدې ځوان خدائي خدمتګار احمد زمونږ رهنمائي کوله. چارسده او بابړه کښې زمونږ د راتګ خبر خور شوے ؤ او چې څنګه مونږ ورسېدو نو هلته تقريباً سل تنه راجمع شوي وو. د پړانګو کرنېل عبدالرؤف چې د هغې جلوس مشري ئې کړې وه ووې چې قيوم خان د خدائي خدمتګارو د ختمولو منصوبه جوړه کړې وه. هغۀ بغېر د څۀ نوټس نه په پرامنه جلوس نۀ صرف ګولۍ وچلولې بلکې دستي بمونه بۀ ئې هم خلاصول. دا مېدان د شهيدانو په وينو تک سور ؤ. نۀ ئې بوډاګان معاف کړي وو او نۀ ئې زنانه او ماشومان. کورونو ته بۀ ننوتل او داسې شرمناک ظلمونه به ئې کول چې د چنګېز خان او هلاکو خان روحونه به هم ترې شرمېدلي وي.

حاجي عبدالرحيم ووې چې زۀ د چارسدې د خدائي خدمتګار سېکرټري وم. مونږ چې سحر مانځۀ له جومات ته تلو نو وۀ مو ليدل چې پوليس مېدان په ګېره کښې اخستې دے. مونږ ئې د مانځۀ نه منع کړو. کله چې زمونږ جلوس د بابړې مېدان ته ورسېدو نو وړومبې ګولۍ د جلوس په علمبردار سپين ملنګ وچلولې شوه. ما څلور تنه وليدل چې يو بل پسې ئې جنډه اخسته او شهيدان کېدل. بيا زۀ خپله زخمي شوم او بيهوشه شوم.



د بابړې د شهيدانو هديره

میر حسن ووې چې زۀ په جلوس کښې شامل وم ما باندې يو دستي بم راوغورځولے شو چې هغې سره زۀ ډېر زيات ژوبل شوم او لږ څۀ کښې د مرګه بچ شوم. زۀ ئې هسپتال ته يوړم نو قاضي نومې ډي ايس پي ډاکټرانو ته ووې چې هيڅ يو زخمي به نۀ داخلوئ دوي پرېږدئ چې د سپي په مرګ مړۀ شي.

بخت محمد مونږ ته ووې چې زۀ هغه وخت ديارلسو کالو وم او د تماشې دپاره مېدان ته لاړم نو په مونږ هم دستي بم خلاص کړے شو. زما درې ملګري شهيدان شو او زۀ زخمي شوم.

د پړانګو محمد اکرم خان ووې چې مونږ د بابړې د مېدان نه په څۀ فاصله د هډوکو منډهۍ سره د جلوس د تماشې دپاره پنځوس تنه ناست وو. چې پکښې بوډاګان او ځوانان ټول شامل وو. زۀ د خپلو يو څو ملګرو سره د جلوس نه وړاندې جومات نزدې ورغلم چې د جلسې اوربدو دپاره ځائے ونيسم. دې دوران کښې په مونږ ډزې شروع شوې. خلق په تېښته شو ما شور جوړ کړو تښتئ مه دا هوائي ډزې دي. دغه وخت زما يو ناڅاپه خيال شو چې زما ملګرو يو مزدور او يو مسافر په پښو لګېدلي وو او فرياد ئې کولو. او بيا داسې ګولۍ وربدل شروع شو لکه چې باران وي. قطب شاه او د هغۀ ښځه چې پټي ته روان وو ژوبل شو. بيا حميد الله خان ولد نصر الله خان چيف آف زرين آباد چې د جلسې د ځائے نه يو نيم سل ګزه لرې وو او دې خوا راروان وو ولګېدل او شهيدان شو. ما چې دا وليدل چې چارسدې بازار ته لاړم او جلوس والو له مې اطلاع ورکړه چې پينځۀ شپږ تنه شهيدان شوي دي تاسو جلوس دې پله مۀ راولئ خو ټولو راته په يو اواز ووې جلوس به نۀ ودرېږي. زۀ بيا په منډه هغې مېدان ته ورغلم او د يوې ونې شاته پټ شوم. جلوس چې څنګه راورسېدو، سپين ملنګ جنډه وچته کړې وه. په هغۀ ډزې شروع شوې. د هغۀ نه يو ځوان جنډه واخسته او ملنګ پرېوتو او ساه ئې ورکړه. اوس برابر ډزې شروع شوې او دستي بمونه به هم چلېدل. په فضا کښې د نعرۀ تکبير او ظالم قيوم خان برباد نعرې وې. خلق په ګولو لګېدل او پرېوتل خو جلوس مخ په وړاندې راروان ؤ. بيا ما وليدل چې زنانه کوټو ته قرآن شريفونه په سر راوختې او چغې ئې وهلې. درې ښځې زما د سترګو په وړاندې ولګېدې. کله چې ډزې ختمې شوې نو مېدان د مړو نه ډک ؤ او د شهيدانو وينې لکه د رود روانې وې. دغه وخت د پوليس ټرکونه راغلل او سپايانو مړي راکښل او ټرکونو ته ئې اچول. ما واورېدل چې يو پکښې اواز کولو چې زۀ ژوندے يم خو دوي د پښو نه راښکو او ټرک ته ئې واچولو. په دې کښې ما د خپلې مور شور واورېدو. چې اکرم جانه چرته ئې، او زۀ پټ پټ کور ته روان شوم.

(دا مضمون په اردو هفت روزه ليل و نهار کراچۍ کښې په مئ 1970کښې چاپ شوے ؤ.